
د ښځو د سولې لنډیز
په افغانستان کې د لومړنیو زده کړو په اړه د ښځو نظرونه
جون-۲۰۲٤

لنډیز :

- د افغانستان له ۲۹[1] ولایتونو څخه، له ۵۶۰۳ ښځو سره په دې اړه نظر پوښتنې ترسره شوې چې دوی په هیواد کې د انجونو لپاره د لومړنیو ښوونځیو په کچه د زده کړو شتون، څرنګوالي او کیفیت په اړه څه نظر لري .
- ۸۷٪) ځواب وېونکو ویلي چې کورنۍ غواړي خپلې لورګانې لومړني ښوونځي ته واستوي، په داسې حال کې چې .
- ۳۹٪)ځواب ویونکو په لومړنیو ښوونځیو کې د زده کړې کیفیت ښه ګڼلی، په داسې حال کې چې(۹٪) وېلي چې د زده کړو کیفیت خراب دی، او (۷٪) وېلي چې په لومړنیو ښوونځیو کې د زدکړو کیفیت خورا خراب دی .
- ځواب ویونکو د طالبانو په واک کې اوسني نورمونه او محدودیتونه (۲۹٪)، ناامني (۲۴٪)، او د مالي سرچینو نشتون (۲۱٪) د اصلي لاملونو په توګه پیژندلي چې د مورپلار پر پریکړه چې خپلې لورګانې لومړني ښوونځي ته نه لېږي، اغیزه کوي .
- په ټولو سیمو کې، کلتوري نورمونه او محدودیتونه، د پام وړ لامل به توګه پیژندل شوی په شمالي او مرکزي ولایتونو کې ناامني د لوېې انګېزې په توګه پیژندل شوې .
- د مالي منابعو نشتوالی هم په شمالي او مرکزي ولایتونو کې د یوې مهمې اندیښنې په توګه پیژندل شوی یوازې ۴٪) ځواب ویونکو، د زده کړې کیفیت، لومړنیو ښوونځیو ته د ځپلو لورګانو د لېږلو په وړاندې د خنډ په توګه یاد کړ، پداسې حال کې چې ۱۲٪) ځواب وېونکو لومړنیو ښوونځیو ته محدود لاسرسی په ګوته کړی .


په مدرسو کې د لومړني ښوونځي د انجونو په شمولیت کې د پام وړ زیاتوالی



---

۱ ،هغه ولایتونه چې نظرپوښتنه پکښې ترسره شوه: بلخ، بامیان، بادغیس، بدخشان، بغلان، دایکندي، فراه، فاریاب، غزني، غور، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، کندهار، کاپیسا، کنړ کندز، ننګرهار، نیمروز، نورستان، پنجشیر، پکتیا، پروان، لغمان، لوګر، سمنګان، سرپل او تخار


لومړی پوښتنه : . ستاسو په نظر، آیا له ۲۰۲۱ کال راهیسې ډیرو کورنیو خپلې لونې مدرسو ته د زده کړو لپاره لېږلې دي؟




دوهمه پوښتنه : .د کورنیو لپاره اصلي لامل څه دی چې خپلې لونې لومړني ښوونځي ته نه لیږي؟



دریمه پوښتنه : آیا ستاسو په ولایت کې کورنۍ غواړي چې خپلې لونې لومړني ښوونځي ته واستوي؟



څلورمه پوښتنه : آیا تاسو په خپل ولایت کې، په دولتي ښوونځیو کې د زده کړې کیفیت څنګه ارزوئ؟



د متمرکزو ګروپي بحثونو لنډیز

متمرکز ګروپي بحثونه په ۲۵[۲] ولایتونوکې له ۴۴۸ تنه ښځینه چې د "واوره" د ښځو د سولې حلقو غړي دي، ترسره شوي ترڅو لومړني ښوونځي ته د انجونو د لاسرسي په اړه د کورنیو پر پریکړو د اغیزې، مدرسو ته په پاملرنه کې بدلون، او د طالبانو له واک څخه وروسته د تعلیم په کیفیت کې بدلونونه. ګډونوالو د ښوونځیو په شمېر کې کمښت په ګوته کړ، چې ډیری یې نور نشي کولی له شپږم ټولګي څخه وروسته انجونې ومني، پداسې حال کې چې مدرسې تر ۱۲[۳] ټولګي پورې انجونې مني او د فراغت تصدیق هم ورکوي

په ټولو ولایتونو کې، یوه ګډه حقیقت شتون درلود: مسلکي ښوونکي خپلې دندې پریږدي، چې دا به د زده کړو پر دوام او کیفیت کې د زوال لامل شي. طالبان په فعاله توګه مدرسو ته د تعلیم لپاره د غوره انتخاب په توګه وده ورکوي او همدارازد مدرسو لخوا د لوړ اعتبار لرونکو اسنادو او احتمالي کاري فرصتونو ژمنې هم پر کورنیو باندې اغیزه کوي. د بغلان ولایت یوې ګډونوالې دې موضوع ته د ټولو پام راوګرځولو چې د دولتي بودیجې د پام وړ برخه له ښوونځیو څخه مدرسو ته لیږدول شوې، چې ډیری کورنۍ یې دې ته هڅولې چې د خپلو لورګانو لپاره د مدرسې تعلیم غوره کړي. "د بودیجې په تخصیص کې د پام وړ بدلون راغلی، هغه بودیجه چې مخکې د ښوونځیو لپاره په پام کې نیول شوې وه اوس مدرسو ته لیږدول شوې." ګډونوالو اندیښنه څرګنده کړه چې د هر راز تعلیمي سند ارزښت په داسې رژیم کې چې د ښځو حقونه له محدودیتونو سره مخ وي، ناڅرګند دی .

په ډیری سیمو کې، اکثرا مدرسې د زده کړې لپاره یوازینۍ ټاکنه وي ځکه چې لومړني ښوونځي یا ټرل شوي یا ډیر لیرې دي، په ځانګړې توګه په لیرې پرتو سیمو کې. اقتصادي ستونزې، ښوونځیو ته د تلو په اوږدو کې ځوروول او ډاروول، کورنۍ نورې دې ته اړ کوي چې خپلې لونې د زدکړو لپاره مدرسې ته واستوي. له دایکندي ولایت څخه یوې ګډونوالې وویل: " ښوونځي ته په لاره کې د زده کونکو ځوروول او ډاروول، له روانو اقتصادي ستونزو سره یوځای، داسې وضعیت رامینځته کړی چې انجونې ښوونځیو ته نه ځي." ناامني یوه بله د پام وړ اندیښنه وه، په ځانګړې توګه د دایکندي او بامیان ولایتونو په څیر چې زیات هزاره نفوس لري، چیرې چې کورنۍ له نورو امنیتي خطرونو سره مخ دي. له دایکندي ولایت څخه، یوې ګډونوالې وویل: «په ښارونو کې د طالبانو پراخ حضور هم ښوونځیو ته د انجونو په لیږلو منفي اغیزه کړی ده

د بدیل په توګه، ځینې کورنۍ د خپلو لورګانو د ټولنیزې انزوا او روانې کړکیچ په اړه اندیښمني دي ځکه انجونې د پورتنیو دلایلو له امله لومړني ښوونځي ته نه شي تلای، له همدې امله د ټولنیز تعامل د چمتو کولو او له واده کولو هخوا د خپلو لورګانو د راتلونکي لپاره د یوې وسیلې په توګه مدرسو ته مخه کړي. که څه هم، د مدرسو د زده کړې د محتوا او کیفیت په اړه د ګډونوالو نظرونه په پراخه کچه توپیر لري، د بامیان په څیر ولایتونو کې، ګډونوالو په دیني نصاب کې بدلونونو ته اشاره وکړه، په ځانګړې توګه په شیعه میشتو سیمو کې، چیرې چې حنفي فقهې د شیعه فقهې پر ځای راوړل شوې. د پکتیا ولایت یوې ګډونوالې وویل: "یوازېنی توپیر [د لومړنیو ښوونځیو او مدرسو ترمنځ] د [مدرسو] زیاتیدونکی شمیر دی، چې اوس نړدې په هره کوڅه کې موندل کیږي، چې ډیری وختونه د غیر مسلکي کسانو لخوا اداره کیږي." ځینې سیمې لکه هلمند او کندهار کې، د دیني زده کړو تر څنګ د انګلیسی ژبې، کمپیوټر زده کړې، او ټولنیزو زده کړو په شمول د لومړنیو ښوونځیو د نشتوالي له امله پاتې شوې تشه ډکوي. نورو ولایتونو، لکه هرات او سمنګان، راپور ورکړی چې یوازې په دیني زده کړو تمرکز دی، او ساینسي مضامین نه تدریس کیږي. د هرات یوې ګډونوالې "تاییدکړه چې په نصاب کې هیڅ علمي مضمون نه دی شامل شوی؛ یوازې دیني مضامین تدریس کیږي.» د تخار یوې ګډونوالې هم "په مدرسو کې د سخت او ډیر دیني متمرکز نصاب په لور د پام وړ بدلون یادونه وکړه." خو توپیر حتی د پروان او جوزجان په څیر ولایتونو کې هم توپیر خورا څرګند کیدلای شي چیرې چې نصاب او د تدریس کیفیت د ښوونکو د مهارتونو، د مدرسې موقعیت او د ښوونکو معاشونو" پر بنسټ دی .

په ټولیز ډول، په داسې حال کې چې د مدرسې ډیپلوم د هغو کورنیو لپاره چې د خپلو لورګانو لپاره د راتلونکي د خوندي کولو په لټه کې دي د هیلو څرک وراندې کوي، دې کار د طالبانو اجنډا هم پیاوړې کړې چې دیني زده کړو ته د یو متوازن نصاب په پرتله لومړیتوب ورکوي. دواړه، د متمرکز بحثونو او د سروې پایلې ښیي چې په افغانستان کې کورنۍ لاهم د مدرسو پر ځای عامه ښوونځیو ته د خپلو لونو لیږلو ته ترجیح ورکوي. دې ته په پام سره، طالبانو داسې ټولنیز، اقتصادي او امنیتي شرایط رامینځته کړي چې په پته یا .ښکاره توګه په کورنیو فشار راوړي ترڅو د رسمي زده کړو پر ځای د خپلو لورګانو لپاره د مدرسې زده کړې غوره کړي .

روش :

وواوره " د ډیجیټل څېړنیزو وسیلو سره د ټولنې پر بنسټ چلند یوځای کوي ترڅو د افغانستان په بیلابیلو ولایتونو کې په ریښتیني وخت کې د میرمنو او انجونو تجربې او نظرونه ترلاسه کړي. په دې لنډیز کې، د آنلاین رای ورکولو نظرپوښته ۴ ډیری انتخابي، ترلې پای پوښتنې وراندې کړې. د انلاین ټولپوښتنې په ترڅ کې، د سنوبال نمونې اخیستلو طریقه غوره شوه چې په کې له ۲۵ ولایتونو څخه ۲۴۵۸ ځواب ورکوونکي چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه پورته وو، نظرپوښته شوي. ډیجیټل مخامخ مرکې د ۴ ډیری انتخابي، ترلې پای پوښتنې وراندې کړې. د مرکو په ترڅ کې، په ۲۹ ولایتونو کې له ۱۸ کلونو څخه پورته، ۳۱۴۵ ځواب ورکوونکو سره د مرکو لپاره له شته شبکو سره د نمونې اخیستلو په موخه مرکې شوې .دي. په پای کې، متمرکز ډله ییز بحث په ۲۵[۴] ولایتونو کې د ۴۴۸ تنه ګډون کوونکو سره ترسره شوي، چې په کې د واوره د ښځو د سولې حلقې ۱۳ - ۲۰ غړو برخه اخیستې وه

د واوره میتودولوژي د دې لپاره ډیزاین شوې چې له بېلابېلو سیمو څخه د میرمنو ګډون ته اجازه ورکړي چې د ټولو ډیموګرافیک او سیمه ایز شالید استازیتوب کوي. په دې سروې کې د بادغیس، بدخشان، غزني، غور، هلمند، کابل، کندهار، کنړ، ننګرهار، نیمروز، نورستان، پکتیا، پروان، تخار، سرپل، کندز او کاپیسا په ګډون له ۱۷ ولایتونو څخه معلومات تر .لاسه شوي چې د استازیتوب لپاره د باور کچه یې ۹۰٪.څخه پورته ده .

د "واوره " په هکله :

واوره" یو ډیجیټل جوړښت دی چې په ریښتیني وخت کې او د بېلابېلو مسئلو په اړه د ښځو نظرېات راټولوي او په ۲۰۲۰ کال کې د پالیسۍ څېړنې او پراختیا مطالعاتو بنسټ" لخوا چې د افغانستان ېو فکري مرکز دی او په کانادا کې فعالېت کوي، رامینځته شوی. لکه څنګه چې له نوم څخه یې ښکاري، واوره په پښتو کې 'اوریدلو' ته وایي، او له دې موخې سره رامینځته شوی چې د افغان ښځو د "اوریدلو" پروسې ته د یو اړخیزې پېښې په توګه نه بلکه په افغانستان کې د سولې، امنیت او پرمختګ په اړه د ټولو ملي او نړیوالو بحثونو د بشپړې او پرلپسې برخې په توګه وکتل شي

---

۲ په بلخ، بامیان، بادغیس، بدخشان، بغلان، دایکندي، فراه، فاریاب، غزني، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، کندهار، ننګرهار، کاپیسا، کنړ، کندز، نیمروز، نورستان،پکتیا، پروان، سمنګان سرپل او تخار ولایتونو کې متمرکز ګروپي بحثونه ترسره شول

د طالبانو تر واک لاندې د افغانستان د مدرسو نظام" د معلوماتو د مقاومت مرکز. د ۲۰۲۳ کال د نومبر ۷مه"https://www.info-res.org/post/afghanistan-s-madrasa-system-under-the-taliban(Edited)

۳ بلخ، بامیان، بادغیس، بدخشان، بغلان، دایکندي، فراه، فاریاب، غزني، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، کندهار، ننګرهار، کاپیسا، کنړ، کندز، نیمروز، نورستان، پکتیا، پروان، سمنګان سرپل او تخار ولایتونه

۴ په بلخ، بامیان، بادغیس، بدخشان، بغلان، دایکندي، فراه، فاریاب، غزني، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، کندهار، ننګرهار، کاپیسا، کنړ، کندز، نیمروز، نورستان،پکتیا، پروان، سمنګان سرپل او تخار ولایتونو کې متمرکز ګروپي بحثونه ترسره شول